دمقالی لیکونکِي : جان کنیفل .

منبع اودخپریدو نیته : « انتی وار ۲۰۱۳-۷-۲۳ »

ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

-------------------------------

# بګرام :بله ګوانتا نا مو

Bagram: The Other Guantanamo

دامریکی دمتحده ایالاتو دولت لا تر اوسه تقریباً

(۶۰) بندیان بی له کوم اتهام څخه دافغانستان په محبس کی په بند ساتلي

---

په ګوانتاناموکی دیوی میاشتی څخه زیات د بندیا نو د غذا د نه خوړلو اعتصاب په دغه روان کال کی چي بی له کوم روښانه توراواتهام دامریکی د دولت له خوا په بند کی ساتل شوی دامریکی د متحده ایالاتو داکټرو تولنیزو رسنیو دمقا لی سرټکی تشکیل کړی



دبګرام په محبس کی امنریکایی سرتیری دبندیانو دخونی په مقبل کی ولاړ

اوداپواځی دګوانتانامو دخلیج زندان نه دی چې هلته دامریکی دمتحده ایالاتو ددولت له خوا
بندیان په بندکی ساتل کیږی بلکه په افغانستان کی د بګرام د هوای میدان څنګ ته په
یوه افغانی بندی خانه کی تقریباً(۶۰) نفرغیرافغانی بندیان په بند کی بی له دی چې دهغوی
جرم معلوم وی وروسته له هغه چې د مارچ په میاشت کی تقریباً (۳۰۰۰) افغانی بندیان
دافغانستان دولت ته وسپارل شو ساتل کیږی .
دبندیانو دوه پر دریمه (۲/۳) برخه ددریم هیواد اتباع دی یعنی زیاتر یی پا کستانیا ن
دی چې ځنی ددی بندیانو دیوی لسیز را هیسی دهغه قانون پوه په قول چې ددی بندیانو
دخلاصون په لټه کی دی په بند کی ساتل کیږي . عمران بالهادی وکیل مدافع د پا کستان
د یوی قضایی پروژی مامور کوم چې دهغه مقعر په لاهورکی دی اوپه دی تازه وختونو
کی دیولسو پاکستا نی بند یا نو ددعوا دوکیل په توګه د ندی تر سره کوی هغه په یوه
خبری ناسته کی وویل چې دغه کسان بی له دی چې د هغوی جرم معلوم وی اویا پر
هغو کوم ښکاره جرمی تور لګول شوی اوسی د امریکی د متحده ا یالاتو ددولت
دموظفینو له خوا رانیول شوی دی اودهغوی قضیه کوم چې نوموړی قانون پوه
پرهغه فکر کوی وایی چې ممکن دی دغه اشخاص «دبشر دبین المللی حقونوپه مقابل
کی شخړه (خشونت) اویاد هغه دقوانینو څخه د سر غړونی په تور سره را نیول شوی
وی» . له بلی خوا څخه بلهادی (پاکستانی وکیل ددعوا) په خپل خبرو کی وایي :په دی
وختونو کی دامریکی دمتحده ایالاتو داسی وړاندیز کړی چې ددی بندیانو څخه به څو تنه
له بنده آزادیږی اما داچې لاتر اوسه د بګرام په بندیخانه را پا تي دی هغه له دی کبله دی
چې دامریکی د متحده ایالاتو اود پا کستان دولت د مذاکراتو په اړین دځنو شرایطو د را
پیښید و له سببه څه خرپړتیا را پیدا شوی چې د همدی دلیل په نظر کی نیولو
سره ددواړ هیوادونو مذاکری سره په ټپه درید لی دی اودبلی خوا څخه دامریکی په
دننه کی هم ددی بندیانو په هکله څه مشخصه اوپریکړنی تصمیم هم نه دی نیولی شوی
یا د هغو په اړین څه یادونی هم نه دی شوی ، ښاغلی کریتس روګر (Chris Rogers)
د آزاد ټولنی په بنیاد کی د نوموړی بند یانو درانیولو د اختلاف نظر په اړین خپل
پاملرنه داسی توجیه کړ : هغه وویل بندیان یا محبوسین اود هغو پا تی کیدل په
بندیخا نو کی دامریکی د متحده ایالاتو د پاره په مینځنی ختیځ کی یوه لویه ستونزه
رامینځته کړی. « دافغانستان ، پاکستان اودنړی په شاوخوا ډیرو نور ځایونو کی بګرام
ددوه مخی او دبی ا نصافی د یوسمبول په بڼه اوس اغوښتی دی » او هغه یعنی
راجرزوا یی چي په افغانستان کی دجګړی په پای ته رسیدو سره به د ترورسره په جګړه
کی د ا شخاصو اود افراد درانیولو فصل او لړی به هم په دواړو بند یخا نو کی یعنی
ګوانتانامو اوبګرام کی به وتړل شی یعنی داچې دامریکی متحده ایالات دمحبوسینو ستونزی
به حل کړی او دخپل په اصطلاح د قانونی دوزخ دروازی به وتړی.
دامریکی دمتحده ایالاتو میشته نظامی مقامات دمارچ په میاشت کی یوشمیر زیات بندیان
چې دبګرام په بندی خانه کی تر کنترول لاندی وه وروسته له هغه چې نوموړی بندیانو
ته دیروان په ولایت کی اسانتیا وی برابرکړل افغانی لوری ته وسپارل .ددی بندیانودانتقال
روند باید زر ترسره شواى واى اما دهغودانتقال په روندکی یو څه ځنډ رامینځ ته شواو هغه
داچې امریکایی لوری ډاریدل چې افغانی چاروا کی دغه بندیان وروسته له تسلیمید و څخه

بیرته خوشی نه کړی یعنی دامریکی اودافغان ددولتونو ترمینځ بی باوری را مینځته شو . اودبلی خوا څخه دامریکی متحده ایالات دولت پریکړه کړی دی چی ددسمبر (۲۰۱۴) کال کی خپل یوشمیر زیات سرتیری له افغانستان څخه باسی اود نورو پاتی برخی سرتیری په اړین لا تر اوسه کومه پریکړی نه دی کړی .
دپنتاګون یو سرچینه یا ویونکی ښاغلی تود بریسیل (Todd Breasseal) په یو بریښنا لیک کی داسی توضیح ورکړ اوهغه داچی امریکی غواړی ددریم هیواد پوری تړی اتباع چی ددوی سره بندیان دی هغوی یعنی دغه جنګی قانونی بندیان د پروان دولایت په یوه وړه ساحه کی په بند وسا تي ، همدارنګه همدغه منبع زیاته کړ چی اوس اوس دګوانتانامو په زندان کی «۱۶۶» بندیان لری چی دهغو د جملی څخه تقریباً (۸۶) یی داسی فکر کیږی چی د امریکی متحده ایالاتو ته کوم سرخوږی نشی رسولی چی هغه به انتقال کړی) هغه وویل چی په منطقی لحاظ سره امریکی ځا نته حق ور کوی چی دغه بندیان تر هغه پوری په بند کی وسا تی تر هغه چی زمونږ دبښمنی او خصومت دالقاعدی دسازمان سره موجود دی نو په پای کی دغه سرچینه زیاته کړل چی زمونږ جګړه د القاعدی د سازمان سره په قوی احتمال به (۲۰) کال نور هم دوام وکړی.
دالا نه دی معلوم چی ددی بندیانوساتل په بګرام کی به تر څه مودی پوری دوام وکړی، بلها دی اندښمن دی اوداسی وایی چی زه دځیل بندیانو اود متباقی بندیانو دبرخه لیک په اړین وروسته له هغه چی امریکایان له افغانستان څخه دد سمبرپه میاشت کال «2014» کی ووځی هم چندان خوشبین نه یم اوداسی فکر کوم چی د بګرام بندی خانه به تلپا تی دبندیانو پرمخ به خلاص وی یعنی بګرا م به تر اوږدی مودی پوری د یو بند یخا نی په شکل به پا تی شی . نوموړی پاکستانی وکیل مدافع زیاته کړ چی زه د خپل موکلینو اود نورو بندیانو دبرخه لیک په اړین چندان خوشبین نه یم اودځکه چی ماته د حل لاره ښه روښانه نه ښکاری بلکه زه فکر کوم چی ممکن ځنی خطرونه به په مخ کی اوسی یعنی ممکن دی چی دغه بندیان په راتلونکی کی د شدید شکنجی او غټو ستونزو سره به مخامخ شی ، هغه زیاته کړ چی افغانان نه غواړی چې په دی ډول ستونزو کی برخه واخلی .
یعنی هغوی دسیاسی ککړتیا دستونزی په را ګرځیدو باندی ښه پوهیږي اود همدی دلیل په نظر کی نیولو سره نه غواړی چي دي ډول سیا سی ستونزو کی ونده واخلي .
راجرز په نوموړی آزاد ټولنه کی د اسی څرګندونه وکړ : دامریکی متحده ایالات د په دی مورد کی د ګړی د ټک ټک په اواز سره په پوهیدو داسی انګاری او هغه داچي له افغانستان څخه دخپل قریب الوقوع خارجیدو سره به بیا دا اوتوریتي ونه لری چی اشخاص او افراد دالقاعدی سره په تړاو ونیسی اوبیا یی بندی کړی .
کله چی د بګرام د زندان د خلاصون سوال په مینځ کی وی ؟ په افغانستان کی دامریکی نظامی موجوده مقاماتو له افغانستان څخه دخپل سرتیرو د نژدی وتوو په اړین او پر بندیانو باندی دخپل اتوریتي پر اغیزی باندی څه فکر کوی ؟ ښاغلی بریسیل دپنتاګون خبر ویونکی وایي: بندیان به تر هغه پوری په همدی زندان کی ساتل کیږی تر څو چی هغوی ته بل یو مناسب ځای پیدا شي ، اودبلی غاړی څخه دامریکی متحده ایالات په دی باور دی چی نه باید له انسانیت څخه لاس واخیستل شی اوهغه دا چي بی له دی چي د جګړی به میدان کی ددښمن جګړه ماران له مینځه ویوړل نشی بله لاره نشته .

همغسی لکه چی بلهادی وایی ، هغه دشپږو تنو بندیانو له جملی څخه دهغو دری تنه دهغه دادخواهی او غوښتنی له امله چي هغه دپاکستان دلاهور په عالی محکمه کی تر سره کړ وشو کړی چی په سپتمبر میاشت کی هغه دری تنه بندیان بیرته پاکستان ته را وغواړی او هلته یی میشته کړی.
ایا دامریکی دمتحده ایالاتو قضا (محکمه) دا صلاحیت لری چی له بګرام څخه پاتی بندیان کوم چی دهغوی برخه لیک چندان ښه نه ښکاری اوداسی فکر کیږی چي ممکن د ځنی خطراتو سره مخامخ شی له بنده خوشی کولی شی ویا نه ؟ لکه هسی چی دامریکی ستره محکمه وروسته له (۲۰۰۸) څخه جمهور ریس بوش ته دا صلاحیت ورکړ چی هغه ادا صلاحیت لری چی په ګوانتانامو کی د ځنو تورن اشخاصو دبندی کولو امر صادر کړی دبګرام د بندیانو ددفاع وکیلانو هم وروسته دلمړی برد«بری» څخه اوهغه هم د ( Al- Maqaleh v, Gates دقانون په رڼا کی )هم دا حق لری چی د خپلو موکلینو (بندیانو) له حقوق څخه دفاع وکړی سره له هغه چی په تجدید نظر کی دهغو ادعا دمحکمی له خوا رد شو او همدارنګه دهغو ادعا داضافی شواهدو په وړاندی کولو سره بیا هم څه شی تر لاسه نشو ، اواوس په دی تازه وحتونو کی ددوهم ځل دپاره هغوی د دخپلو قضیو په اړه تجدید نظر غوښتی دی .
امین ال بکری یمنی له (۲۰۰۲) کال څخه راهیسی دامریکی دمتحده ایالاتو د موظفینو له خوا نیول شوی او اوس په بند کی پروت دی اوهغه یو له هغه دری کسانو څخه دی کوم چی د (al-Maqaleh v. Gates) دمقرری یا دقانون په رڼا کی دادخواهی کړی چی هغه دهغه دمدافع وکیل (Golnaz Fakhimi) په قول چیری پټ د سی آی ای د موظفینو له خوا شکنجه شوی دی ، «ګلانز بکهیمی» وایی چی ځما موکل لا تر اوسه دری ځل بیل بیل وختونه دخپل خوشی کیدو درخواست کړی دی دهغه اود ځنی نورو بندیانو ادعا دبګرام په زندان کی دادی چي هغوی نه پوهیږی چي ولی زندانی شوی دی دامین ددعوا وکیل فکهیمه وایی : دا پخپله د اوباما دهغه وعدی سره چی د ګوانتانامو زندان تړی په بشپړ بنی سره په تضاد کی دی اودا ځکه چی د ګوانتانامو د زندان دتړلو اویا د نه تړلو راپیداشوی ستونزی نه باید ددی جوګه شی چی په بګرام کی هم بندیان دنا معلومی مودی د پاره په بند کی وساتل شی .
روجرز(Rogers) حتی د پورتنیو توضیحاتو په نظر کی نیولو سره د خپل کرکتر له نظره لا ډیر روند اوګمراه ښکاری لکه هغه چی وایی «بګرام » یوه بله ګوانتانامو دی کوم چی تاسی دا خبره لا تر اوسه نه دی اوریدلی . پای

------------------------------------------------ په درناوی